# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| | |
|---|---|
| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |



درویش وردک

۰۹ فبروری ۲۰۱۶

## پنځه لسم مجلس(دمؤمن په ایثارکی)

دیکشنبی په ورځ د۵۴۵ هجری قمری کال د ذی القعدی په نهمه شیخ عبدالقادرگیلانی (رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل: مومن دآخرت دتوشی په فکر کی دی ، اوکافردنیا په ګټه وټه کی. مومن دآخرت توښه برابروی اوله دنیا څخه په لرو بسنه کوی، ډیردآخرت لپاره زیرمه کوی. دمسافرخوراک په اندازه چی یوئی وړی شی، ګټه اخلی. خپل ټول شته دآخرت په لاره کی صرف کوی،ټول حواس یی هوری دی، ټول طاعات اوعبادات دآخرت لپاره ترسره کوی، زړه یی له دنیا غوځ اوله آخرت سره پیوست شوی. که پاک خواړه ترلاسه کړی ،نودرویشانوته لومړیتوب ورکوی، ځکه پوهیږی چی په آخرت کی به له دی بهتره پاداش په ترلاسه کړی.

ولی، تاوینم چی دقیام ،قعود،رکوع اوسجود، دشپی کښیناستل اودعبادت رنځ وړی، ولی زړه دی اصلا ندی بدل شوی، اودبدن له چوکاټ اومعمولی عاداتوڅخه نه یی راښهرشوی.

دحق دغوښتنی په لاره کی صادق اوسه، یوازی صدق کولای شی تا له رنځونو خلاص کړی، دوجود بیضه دی دصدق په مښوکه سوری کړه، اوپرخلکو دتکیی دیوال دتوحید اواخلاص په کلند وران کړه. مادیاتو ته دعلاقی قفس دزهد په لاسو مات کړه، اودزړه په وزرونو دقرب ددریاب غاړی ته والوزه. پدی حال کی دعنایت کشتیبان درته راځی اودحق لوری ته دی ترلاس نیسی. دادنیا په حکم کی دریاب اوستا ایمان کښتی ده. دی امرته په کتولقمان حکیم خپل زوی ته داسی وویل: ای زویه دنیا بحرده اوایمان کښتی، ملاح اوکښتیبان ستا طاعات اوبندګی، اودنجات ساحل، آخرت دی.

ای هغوکسانو چی دګناهونوپرکولو اصرارکوی، ډیرژربه دخلکوړندی سترګی،کانه غوږونه،تنګ اوناشکری،دخلکو سخت زړیتوب ستاسوپرورواندی، ستاسو لمنه ونیسی.ستاسوتوله شتمنی به په بیلولارو(مصادره،غلا،دزیان اوضرر) پوسیله درڅخه ستانه کړی. هوښیاراوسی اوخدای لوری ته راورګرځی. په خپلو شتواودارائی تکیه مه کوی اوپدی سره دخدای سره شرک مه کوی!  ددنیا دمال حب له زړه وباسی، هغه په کوریا دغلامانواویانورو کسانوسره پریږدی اودمرګ په اند یښنه کی اوسی، ترڅوموددنیا حرص له زړوو‌باسی.

له بایزید بسطامی رحمة الله علیه څخه منقول دی چی فرمایلی دی: مومن عارف کس له خدایه نه دنیا غواړی اونه آخرت، بلکه یوازی حق ته دقرب اولقاء غوښتونکی دی.

زړونه موددہ پښتوته وغورځوی، دده پروړاندی بی ژبی بی سترګو اوبی لاس اوپښو،یعنی دمحض(سوچه) تسلیم اوپرته له چون اوچرا، په کامل موافقت اورضایت،ووایی: دخدای مقدرات درست دی،اودخدای غوښت پرځای دی. هرکله که

په دی مقام نائل شوی، زړونه به مودحق له قرب سره اُنس واخلی، دحق دعظمت دنبنوپرته هیڅ شی ته نه ګوری، اوله هرڅه(له ځمکی ترعرشه) پرته له خدایه ویره لری، له خلکو تښتی، اودمحدثاتو له قیداوبنده راوزی.

دبزرګانو له احواله اوله خدای عزّوجلّ سره ددوی داړیکی څخه پرته دادب له مراعاته اولازم خدمته ،څوک نه خبریږی.

داخلک، ستاینه اوغندنه دژمی او دوبی په څیروینی، چی پرته له خدایه څوک ددی پدیدو په خلقت اوپیداینبت، قادره ندی، نودنورو په ستاینه اوغندنه پسی نه ګرزی. له بدګویانوسره جنګ جګړه نه کوی، دخلکو حب اوبغض یی له زړو ایستلی، یوازی درحم اوشفقت په سترګو خلکو ته ګوری.

له عمله پرته علم درته څه ګټه رسوی؟ خدای بی عمله عالم دهماغه علم پواسطه ګمراه کړی دی. دعلم زده کړه کوی، لمونځ وایی، روژه نیسی، ولی داټول دخلکو دخوښی لپاره ترڅو تاسو وستایی، اوتاسوته بذل اوبخشش وکړی، اوپه مجالسو کی مو په نیکی سره یادون وکړی. جزااوپاداش(دټولوعباداتواواعمالو) به همدا وی. ولی ای دخدای بنده پوه شه اوخبراوسه، چی کله مرګ درته راورسید اودژوندانه تیارو ته دی مخه شوه، ستا اوددوی ترمنځ به بیلتون راشی اوستالپاره ددوی له لاسه هیڅ ګټه ونرسیږی. هغه څه چی ددمال اوثروت په نامه ساتلی دنوروبه شی، عقوبت اوعذاب به یی ستا په برخه شی. ای بدمرغه نامیده، نن په رنځ اوسبا دآخرت په عذابونو کی ځای لری.

عبادت هنردی اوددی هنراهل اولیاء اومخلصه ابدال دی(دخدای رحمتونه دی پردوی وی) چی دحق قرب ته رسیدلی. داعامل علمادی چی دخپل علم پواسطه دځمکی پرمخ نوابان اودانبیاو وارثان دی. نه تاسو ای دهوااوهوس ګرفتارانو، چی په زبان آوری بوخت یاست.

(ای دخدای بنده) ته پرکوم شی ولاړ نه یی، اسلام دی صحیح ندی. داسلام بنسټ دشهادت سپیڅلی کلمه ده، ولی یوازی دی(لااله الاالله) ویل کارپای ته نه رسوی. ستازړه اوستا دخدایانو ډله هغه تکذیبوی. دښارله والی اوسلطانه ستابیره ستا خدای دی ستالپاره، پرکاراوکسب تکیه اودهغی ګټه ستاخدای دی، په خپل زور، اوریدلو اوکتلو باور اوتکیه ستا خدایان دی، له خلکو دګټی اوتاوان ښنی اومنعی، هیله هم ستا خدای دی. ډیری خلکو پردی بی معنی خدایانو تکیه کړی اوپه ظاهره پرخدای دتوکل اظهار کوی.

څرګنده ده چی ددوی داوینا دژبی له عادت څخه ده اودزړه ملاتړله ځان سره نلری، اوهرکله که ددوی داعمالو کرغیړنتوب ورته په ګوته کړی ، نوفریاداوناری به وهی چی : مونږ مسلمان نه یاستو؟ سبا به روښانه شی اوټول فضایح اوهغه څه چی مو پټ کړی، راڅرګندشی.

وای پرتا! په ویناوکی د(لااله) په ویلو هرډول خدایان نفی کوی، اوپه (الاّ الله) یوازی خدای ته الوهیت اثباتوی، نوڅرنګه اوپرکوم بنسټ دی زړه له خدایه پرته پرغیرو متکی دی. پس درواغ دی ویلی، ستا خدای هماغه دی چی اعتماد دی پری کړی،ځکه دهری وینا اعتبارپه باطن دی نه په ظاهره.

ستازړه دی چی، مومن ،موحد، مخلص، پرهیزګاره، زاهد، موقن، دحق پیژندونکی، عامل اوامیردی، اونورټول عوامل دده لښکریان اوفرمانبرداران دی.

هرکله که د(لااله الاالله) قول په ژبه راوړ، لومړی په زړه، اوبیا په ژبه ګویان شه، په هغه باوروکړه، اوپرته له هغه هیڅ موثق مه ګڼه. خپل ظاهردشرع په احکامو سمبال کړه اوباطن دی دحق په نور. نیک اوبد له ظاهره لیری کړه، اوباطن دی دنیکو اوبدو خدای ته پریږده. هرچا چی خدای وپیژانده ،ژبه یی دهغی پروراندی بنده شوه، اوپروړاندی یی تواضع اوسرټیټی کوی، خوف اورجا اوژړابه یی ډیره شی، شرم به یی زیاتوالی وموی اوله ګناهونو څخه به پښیمانی اوندامت احساس کړی، دمعنوی نعمتونو(معرفت ،علم وقرب)دزوال له ویره به دده په زړه کی ځای ونیسی.

حق سبحانهٔ فرمایی:( **فَعَّآلٌ لِمَا يُرِيدُ- لآيُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وهُمْ يُسألُونَ**) له خپل افراط اوتفریط څخه نادمه، اوله شرمه اوبه کیږی، دمواخذی اوعقابه تل په ویره کی دی، نګران دی چی آیا مردود به شی که مقبول، آیا دقیامت په ورځ به دمومنینو په ډله کی وی اوکه دکافرینو؟ ددی اصل پربنسټ رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (**أَنَا أَعْرَفُكُمْ بِاﷲِ وَ أشَدَّ لَهُ خَوْفاً**)-« زه دخدای په پیژندنه ترټولو تاسو ښه پوه یم، اوترتاسوټولوتری ډیرپه ډارکی یم».

دعرفاو له ډلی په ندرت ځینی دی پوړ ته رسیږی چی دپردی شاته په اسرارو خبرترلاسه کړی. اوکه ییی. له دی اسرارو بوی ترسپوږموشو، نوداختفاء اوپټولوامریی دستی ورته کیږی. په پیل کی اوامروته په محض تسلیم وی، اوله ټولو منهیاتو مخ اړوی. دټولو بلایاو اوآفاتوپروړاندی صابره اوشکیبا دی، ترڅو هغه ځای ته ورسیږی چی پرته له حقه له ټولو په تیښته وی. ددوی پروړاندی خاوری اوزر، ستاینه اوغندنه، ښنه اومنع، بهشت اودوزخ، نعمت اورنځ، درویشی اوشتمنی، وجود اوعدم، یوبرابرکیږی، اوتبارک وتعالی خدای ترهڅه لوړبولی. هغه وخت دولایت فرمان اودخلکو دلارښوونی امرورته کیږی، ترڅوخلق الله یی له وجوده ګټه ترلاسه کړی.

«**ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الآخره حسنه وقنا عذاب النار**»- آمین.